د مونټې کرسټو نواب

د الیګزانډر ډوما اثر

خلاصه: صفیه حلیم

۲۰۱۰ م

د ۱۸۱۵ م کال په سر کی یوه بېړۍ د فرانسې د مارسېلز بندرته رانږدی شوه نو په دی کی سپاره زیات خلک، بره هغی غونډۍ لیدو ته ودریدل چې د سمندر په منځ کی لکه د یوی لوې او توری بلاښکاریده. دا د ساحل سره دومره جوخته وه چې په اوبو کی یې لاره تنګه کړی وه. کله کله به بېړۍ له دی سره وجنګیدې او غرقې به شوې. دا غونډۍ بدمرغه نومیده اوپه بیړیو کی سپاروخلکو ددی په اړه ډول ډول کیسې جوړی کړی وې. خو نن دبېړۍ مشرډاډمن و چې داسی به څه نه پېښیږي، ځکه دده سره یو تکړه ځوان ایډمنډ ډانټې ددی چلونکې و او هغه وخت دده ترڅارنی لاندېدېرپه م[illegible] د بېړۍ ساحل ته ورسېدله [illegible] بېړۍ به پ[illegible] رو[illegible]بو کی ولاړی وې او خلک او مالونه به یې تری په وړو کشتیو کی ځمکی ته اوړل کیده.

کله چې وړی کشتۍ دی بېړۍ ته ورنږدې شوی نویولوړدنګ سړی د کپتان خونې ته سروربنکاره کړو او هلته ناست کس دده په لیدو ورته هرکلې ووېل، بیا یې تری وپوښتل چې دی ولې دومره خفه ښکارېدو. هغه کس چې ډانټې نومېدو،ورته ووېل چې د بار اوړونکې بېړۍ کپتان په لاره مړ شوی وخومالونه یې خوندي مارسېل ته رسولې و. ډانټې دبېړۍ څو کسانو ته امروکړو چې بادبان دی وتړي . هغه سړی دبېړۍ خاوند او لوی

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

تجارمورېل نومېدو اود ډانتې په خبره خوشاله معلومېدو. د بېړۍ محاسب ډېنګلر دا خبره خوښه نشوه چې تجار ورته دډانتې صيفتونه کول. مورېل ډانتې ته ناره کړه چې له ده سره دی راشي نوهغه دبېړۍ لنګر د اچولو امر وکړو.

مورېل د ډانتې نه پوښتنه وکړه چې دوي په لاره د "ايلبا" جزيرې کی ولې ايسارشوي و. ده ورته ووېل چې پخواني کپتان ده ته يو پاکټ ( لفافه) ورکړی و چې هلته دی معزول شوي باچا ته وسپارل شي. ددی خبری په اوريدومورېل ورته نږدی شو او وې وېل، نو تا د باچا سره وليدل ، ډانتې ووېل هو ، دی پخپله بېړۍ ته راغلو اوورسره يې خبری وکړی او هغه دده نه د بېړيو په اړه پوښتنې هم وکړې. مورېل ورته ووېل چې ددی حال دی بل چا ته وونه واي. ډانتې د بندر د چارواکو سره ليدو ته ورغلو.

ډينګلر دمورېل خوا ته راغی او ورته يې ووېل، ډانتې درله هغه ليک درکړوچې ستا پخواني کپتان ورله ورکړی و. مورېل ووېل، که ده ته چا ليک ورکړی وي نو رابه کړي. د ډانتې په راتګ ډينګلرغلې شو.

مورېل. اوس خو اوزګار شوې چې راسره د ماښام ډوډۍ وخورې.

ډانتې. زه معذرت غواړم، نن نشي کيدې، پلارمې له ډېرو ورځونه دی ليدلی او دی به راته په انتظار وي.

مورېل. بی شکه، ته ډېر ښه زوي يې چې خپل پلاردی راضي ساتلې دې، خو يوبل کس به هم درته په انتظار وي. هغه ښکلې ملګری دی دری واری له ما نه پوښتنه کړی ده چې بېړۍ به کله راځي.

ډانتې. هغه می ملګری نه ده، زما چنغله ده.

مورېل. ښه ښه نوردی نه ايساروم. تا راته بېړۍ او ددی مال خوندي راورسوو او په ګټه کی به درله يو څه برخه درکړم چې پلار ته يې ورکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډانټي. نه صيب. زما پلارغريب سړی دی. هيڅ شي ته اړتيا نه لري. ما خپله وظيفه سرته رسولې ده او ددی په بدل کی مې درنه معاش اخستی دې.

موريل. ته ډېرايمانداره کس يې. خو دا راته ووايه چې کپتان ايکلر دمرگ نه وړاندی درته زما لپاره يو ليک خو نه و درکړی؟

ډانټي. هغه مرحوم دومره ناروغه و چې د ليک ليکلو جوگه نه و. اوس که اجازه راکړئ چې زه يو څو ورځې له کاره رخصت واخلم.

موريل. واده لپاره؟

ډانټي. هو. لومړې واده کوم او بيا به پاريس ته ځم.

موريل. ډېر ښه. هر څومره رخصت چې اخلې، واخله. دا مال به په يوه نيمه مياشت کی له بېړۍ ښکته کيږي، نو ترهغی اوزگار يې. خو يوه خبره ده چې شپږ اوونۍ وروسته ته به ددی بېړۍ دکپتان دنده پرغاړه اخلی.

ډانټي. کپتان او زه؟ دا خو زما لپاره د وياړخبره ده.

موريل. که زه ددی بېړۍ خاوند وې نو اوس به می درله په اسنادوټاپه لگولې وې، خو زه يو شريک وال هم لرم او غواړم چې د هغه رضا واخلم.

ډانټي. زه ستاسو مننه څنگه وکړم؟ د خپل پلاراو د مرسيډيز له خوا هم درته مننه وايم چې په دی خبر به بی کچه خوشاله شي.

موريل. ته با استعداد کس يې او ستا په شان خلک بايد لوړمقام ته ورسيږي.

ډانټي دموريل په وړی کشتۍ کی کېناستو او د بندر په خلکو کی ورک شو. په بېړۍ کی ډينگلر د تجار سره کېناستو او هغه کرکه چې د ډانټې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

صیفت یې په زړه کی راټوکیدلې وه، په خوږو تورو یې د ډانتې غوږ کی لکه د ګبین توی کړل.

ډانتې د ښار له څو کوڅوپه تېرېدو یووړوکي کور مخ ته ودرېدو. ددی په یوه کوټه کی یې پلار اوسیدوچې هغه وخت بهرپه برنډه کی ولاړ و او ده ته یې شا وه. ډانتې خپل لاسونه تری تاو کړل او پلار یې په غیږ کی ونیولو. دی سمدلاسه پوهه شو چې پلاریې نورهم کمزوری شوی و. خو د زوې په لیدو دی خوشاله شو او دواړو خبرېپېلکړې. ډانتې دده د کوټې الماریَ پرانستی چې وګوري پلاریې څه ته اړتیا لري نو هلته د خواړولپاره یې څه ونه موندل. ده پلارمخ ته پیسې کیښودې چې اوس به ددوي حال ښه شي او دې به ورته یو خدمت ګار ونیسي چې ساتنه یې وکړي. خو پلار ورته ووېل چې دی هیڅ شي ته اړتیا نه لري. ددوي ګاونډې هم دده د غږ په اوریدو راښکاره شو اوپه میز ایښو پیسو ته یې د وکتل. د حال احوال اخستو نه وروسته ګاونډې ولاړو اوکله چې ډانتې د مرسیډیزلیدو ته روان شو نو ګاونډي یې د ډینګلر سره ولیدل. ورته یې ووېل چې د ډانتې له خبرو داسی ښکاري چې دی به ارو مرو دبېړیَ کپتان شي. ډینګلر په دی خبره نورهم خفه شو اوډانتې ته یې په زړه کی کینه زیاته شوه.

پیغله مرسیډیز د خپل کورپه باغ کی د ځنګلي ګلونو په راټولولو بوخته وه. له دی څو ګامه لیرې د لرګي په چوکیَ په تورو جامو کی یوښکلې ځوان ناست و چې کله نا کله به یې له دی سره خبره وکړه. دی ته یې ووېل، ګوره اوس هوا ښه شوی ده او د واده لپاره ښې ورځې دي.
مرسیډیز ورته په قهر ووېل، یو وارمی درته ووېل فرنانډ، چې زه له تا سره واده نه غواړم، زه درته د ورور په سترګه ګورم. دا خبره ولی بیا بیا کوې؟ فرنانډ ورته ووېل، ته خو خبره یې چې زمونږ په ټبر کی رواج دی چې پخپلو کی واده کوو. زه په پوځ کی یم او ښاي زه درته غریب ښکارم ځکه ته د یو شته من سړي په انتظار یې. مرسیډیز ورته ووېل، دا خبره نه ده. زه د بل چا سره مینه لرم او هغه له تا هم غریب دې. فرنانډ تری د هغه نوم وپوښتلو نو دې ووېل، زه د ایډمنډ ډانتې سره مینه لرم او د هغه سره به واده کووم. فرنانډ ورته ووېل،که ډانتې مړ شو نوبیا ؟ مرسیډیز

(c) ketabton.com: The Digital Library

ووېل، بیا به دا هم مړه شي. په دی وخت کی ایډمنډ دانتې باغ ته راغلو نو مرسیډیز لکه د ګل وغوړیده خو فرنانډ د زخمي مار په شان ورته کتل. ډانتې د هغه په اړه وپوښتل نو مرسیډیزووېل، دی زما ورورفرنانډ دی. ډانتې د هغې لاس ونیولو، زه چې دلته راتلم نو خبر نه ووم چې دخپل دښمن سره به وینم. مرسیډیزموسکۍ شوه اوډاډ یې ورکړوچې فرنانډ دهغی تربور و او د دښمنۍ لپاره نه وراغلی."

څوشپې وروسته فرنانډ د ښار په یوی کوڅه کی ناهیلې روان و چې یو چا وربانډی غږ وکړو. ده ولیدل چې د ډانتې ګاونډې د کپتان ډېنګلر سره د میخانې مخ ته ناست و، شراب یې څښل. دوي ورته د شرابو ست وکړو او له ځان سره یې کېنولو. په څو شپېو کی دوي دواړوفرنانډ ته د ډانتې په اړه لمسون وکړو. ډانتې او مرسیډیز د یو بل تر څنګ له هغې لاری تېر شول نو ډینګلردوي ودرول او د واده په اړه یې پوښتنې وکړې. ډانتې ووېل چې نن به ټول انتظام وشي، په دوو ورځو کی به واده وکړي او په درېمه ورځ به پاریس ته روان شي.

دوي دواړه چې له سترګو پناه شول نوډینګلرد فرنانډ نه پوښتنه وکړه چې مرسیډیز پری څومره ګرانه وه. هغه ورته ووېل چې ډېره، نو ده ووېل، "که زه ستا په ځای وې نو د ډانتې په خیټه کی به می چاقو منډلی وې. "فرنانډ ورته ووېل، زه دا نشم کولی ځکه که ډانتې مړشو نومرسیډیز به هم ځان وژني. ډینګلر په دی وخاندل، "ښځې دا واي خو هیڅوک ځان نه وژني." ده فرنانډ ته ښه ډېر شراب ورکړي و اود وخت په تېریدو هغه د شرابو په نشه نه پوهیدو چې څه واي.

ډینګلرد میخانې یوخدمتګار نه کاغذ او قلم د روشناي سره راوغوښتل اوفرنانډ ته یې ووېل چې د خپل ګس لاس سره وربانډی ولیکي چې، ډانتې د ایلبا په جزیره کی د ایمپراتور نپولین سره لیدلي و او د هغه له خوا یو لیک پاریس ته اوړي. دی د هغه غندنه کوي او ثبوت یې دا دی چې که د ډانتې تالاشي وشي نو هغه لیک به پیدا کړي.

په بله ورځ د ښارپه یو هوټل کی دایډمنډ ډانتې اود مرسیډیز د واده میلمستیا جوړه وه. ددوي نږدې خپلوان او د ډانتې دبېړۍ ملګري ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغلي و. مورېل چې راورسیدو نوټولو لاسونه وپړکول. مرسیډیز نن له نورو ورځودېره ښکلې شوې وه او ډانتې ورته په کتلو نه مړیدو. ډینګلر، د ډانتې ګاونډي اود فرنانډسره جوخت ناست و خوفرناند ناارامه و.څو شېبې وروسته دده رنګ ژیړشو او خوا یې ګرځیده نو دمیلمستیا له خونې بهر ولاړو. د ډوډۍ نه وروستو ټول میلمانه راپاسېدل چې په کلیساکی د واده او د نکاح مراسمو ته ورشي، خو په دی وخت کی یو لوړغږ ټولو ته امر وکړو چې هرڅوک دی پخپل ځاې کېني.

د هوټل په دروازه د پولیسو مشر ولاړ واو دده په لیدو موریل ورته ووېل، څه خبره ده؟

دپولیسو مشر ووېل چې ددوي ایډمنډ ډانتې پکارو. ټولو ډانتې ته وکتل نو دی راپاسېدو او وې وېل، زه ایډمنډ ډانتې یم. څه راته وایئ؟ دوي ورته جواز ورنکړو خو وې وېل چې معامله جدي وه او دی به تانې ته ورسره ځي. مرسیډیزبې هوشه شوه او ډانتې ورله اوبه ورکړی نودا هم هلته په کرسی یې کېنوله. هلته څو کسانو او مورېل پولیس ته خواست وکړو چې ډانتې به په بله ورځ به درشي، نن یې واده دې خو دوي وونه منل . ډانتې ټولو ته تسلي ورکړه چې زربه بیرته راشي او څو ځوانانو دی ګاډي ته بدرګه کړو. مرسیډیز د واده په جامو کی کړکۍ ته ولاړه او په اوښلنو سترګو یې ورته په مخه ښه ووېل. ډانتې ورته له ګاډي په زوره ووېل، زه به ژربیرته راشم.

مورېل د ډانتې د خلاصون لپاره پولیس ته ولاړوخوهغوي دده ضمانت ونه منلو . دی بیرته راغلونو په انتظار میلمنو ته ووېل چې په ډانتې د نپولین سره د اړیکوتورلګېلی دی او هیڅ امکان نشته چې دی به د واده لپاره راشي. د ډانتې د پلار ګاونډي ډینګلرته وکتل او وې وېل، دا ښه کار نه دی. زه به پولیسو ته هرڅه ووایم چې پرون موڅه وکړل. ډینګلر ورته ووېل، غلی شه که نه نوته او زه به هم پکی راګیر شو. فرناند د مرسیډیز لاس ونیولو او دا یې کورته بوتله.
د مارسېل یوی مانۍ په خونه کی ډانتې ناست و. دده په اړه یو لیک چې د لوی څارن وال په نوم وترلاسه شوی و. په دی کی لیکلي و چې ده نپولین ته یو لیک وړی او بل یې دده له خوا په پاریس کی چا ته راوړی و. نپولین

(c) ketabton.com: The Digital Library

معزول شوی او د ایلبا نومی ټاپو کی یې خپل ځان باچا اعلان کړی و.
قاضي نواب وېلفورټ نومېدواو دډانټې سره د خبرو لپاره تالار ته روان شو. په دروازه یې د پولیسودمشرنه پوښتنه وکړه چې دننه ناست کس په بحري ځواک کی څو نه و. پولیس ورته ووېل چې نه دی ډېر ځوان و، د نولسو یا شلو کالو. په دی وخت کی ښاغلې مورېل هم راغلو اوقاضي ته یې ووېل چې ایډمند بی ګناه و او دده کسانواشتباه کړی وه. قاضي ورته ووېل چې دی به پخپله وګوري. دننه دده په میز د کاغذونو ګېډۍ ایښې وه چې پکی د ایډمنډ ډانټې په اړه ټول ضروري معلومات لیکل شوي و. ډانټې د پوښتنو په ځواب کی ووېل چې ددوي بېړۍ د ایلبا ټاپو کی ایساره شوی وه او هلته دده کپتان نپولین ته یولیک ورکړی او بل لیک یې تری اخستی وچې د هغه له مړینې وروسته ده مارسېل ته راوړو. قاضي ورته ووېل، چې دی څوک دښمن لري نو وې وېل چې دی دومره معمولي کارنده دی چې څوک به ولې ورسره دښمني وکړي. بیا ددی خبری په ځواب کی چې پاریس ته ولې تلو، ده ووېل چې دبېړۍ مړکپتان ورته یو لیک ورکړی و چې دا به هلته ووړي.
د هغه نه د لیک په اړه پوښتنه وشوه نو دا یې له جیب راویستلو. په دی د پاریس یوه پته لیکلې وه چې په ولوستلویې د قاضي پښې وریږدیدې. ده له ایډمنډ پوښتنه وکړه چې د کوم کس نوم چې په لیک لیکلې و ، دې یې پیژندلو نوده انکار وکړو. بیا یې پوښتنه وکړه چې بل چا ته دی د لیک په اړه وېلي دي. هغه ووېل چې هیڅوک نه و خبر. قاضي دده له لاسه لیک واخستو، بخارۍ ته ورنږدې شو او دا لیک یې په اور کی واچوو. ډانټې حیرانه پاته شو. قاضي ورته ووېل، په ما باور ولره او اوس هر څه راته ریښتیا ووایه چې ته د کوم سیاسي ډلې سره تړاو لرې؟ ډانټې ورته ووېل چې دی هیڅا سره تړاونه لري او غریب سړی دی. قاضي ورته ووېل چې دی به د یو څو ورځو لپاره بندي خانې ته وراستول کیږي خو لوز یې وکړو چې ډېر ژربه یې خوشې کړي.
ډانټې څو ورځې په بندي خانه کی په انتظارتېرې کړې او یوه شپه ورته امرووشو چې بهر په ګاډي کی دې کښني. دی په ارام ولاړو او کله چې اس ګاډی د بندرسره ودرېدونود خوشالۍ احساس یې وکړو. ښاي دې به خپلې بېړۍ ته ورشي. دی په وړی کشتۍ کی کښینول شو او تردېره وخته په تیاره کی روان و. ده خپله بېړۍ له لیرې ولیده نو له محافظانو یې وپوښتل

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې چرته یې بیایي؟ هغوي ورته ووېل، ژربه خبرشي. له لیرې یې د مرسیډیز کورلیدو چې تراوسه هم د هغی د کوټې رڼا بله وه. ده د محافظانو مشرته زاری وکړې چې ورته ووایي چرته روان و. هغه ورته بدمرغه غونډۍ په نښه کړه چې ورباندی پخوانی بندي خانه جوړه وه. په دی کی به یواځې سیاسي بندیان ساتل کیده او ډانتې هک پک پاتې شو چې دی په کوم جرم هلته ورلیږل کیدو. محافظ ته یې ووېل، زه نه محاکمه شوی یم، نه راباندی جرم ثابت شوی دی، تاسود چا په امرما بندي خانې ته ووړئ؟ نږدی وه چې ده په سمندرکی ټوپ کړی وې خو محافظ پری پوهه شو. ددده د سترګو په اشاره دوو کسانو راګیر کړواو د کشتۍ په فرش یې پړ مخی واچوو.

غونډۍ ته په رسیدو هغو دوو کسانو دی له کشتۍ راپورته کړو او په راښکلو یې بره بندي خانې ته ورسوو. نورکسان د ټوپکو سره بدرګه ددده شاو خوا روان و. د دی بندي خانېدېوالونه لوړاود تیږو نه جوړ و. ډانتې ځوشبېې په یوه کوټه کی وساتل شو او بیا یو کس راغلو چې دې خپلی خونې ته یوسي.

په دی خونه کی په زمکه پروړایښي و چې دده د ویده کیدو لپاره و. یو لوښي کی اوبه او یوه اوچه ډوډۍ یې ورته ورکړل او لویه اوسپنیزه دروازه یې ورپسی وتړله. ډانتې سهارد بندي خانې د مشر سره د لیدو غوښتنه وکړه. خو ورځې په میاشتو واوختی او هیچا له ده سره ونه لیدل. دی به په کوټه کی ټوله ورځ لکه د لیونو ګرځیدو او کله کله خو ډوډۍ هم تری پاته وه. هغه محافظ چې په لومړۍ ورځ یې لیدلې و، کله کله به له ده پوښتل چې څه غواړي نو ده به د مشر سره د لیدو ووېل. هغه به ورته وېل چې دا امکان نه لري. خو که ده شرونکړو نو کیدیشي په یو څو میاشتو کی یې ووینې.

ډانتې یوه ورځ ورته ووېل چې د څو پیسو په بدل کی دی مرسیډیز ته یو پیغام یوسي خو محافظ ورته ووېل چې که دی ونیول شو نو د نوکرۍ نه به یې وشړي. خو ډانتې تل هم دا غوښتنه کوله. یوه ورځ محافظ راغې او ورته یې ووېل چې نن به دمشر سره ووینې خو کله چې دې ورسره ولاړو نودوو کسانو ټینګ ونیولو اود بندي خانې په ته خانه کی یې واچولو چې پکی تکه توره تیاره وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بندي خان نه بهر مرسيډيز د قاضي کور ته ولاړه چې د ډانټې په اړه معلومات وکړي خوهغه ورته ووېل چې د هغه معامله دده له ګوتو وتلې وه. د ډانټې د بندي کيدو امر د باچا له خوا شوی و، خو تر څو چې مورېل خبريدواو د نوی باچا دربار ته يې عرضي کوله، په پاريس کی د باچا تخت نسکوراوحکومت بدل شو. نپولين سل ورځې باچاهي وکړه او پخوانې باچا يو وارې بيا په تخت کېناستو.

د زندان په تياری خونی کی د ډانټې يونيم کال پورا شواو يو ځل مشر دده ليدو لپاره راغلو خو دده د پوښتنی ځواب ورسره نه و چې دی ولې بندي و؟ دده په خواست هغه يوې بلی خونې کی بند کړی شو. هغه اوس د خلاصيدو هيڅ هيله نه لرله او له ځان سره يې هوډ وکړو چې که خواړه پرېږدي نو ژربه له دی زندان ازاد شي. خوپه څو ورځو کی دی دومره کمزوري شو چې زيات وخت به د خوب په حال کی پروت و.

يوه شپه ددېوال نه وراخوا يو بل غږ يې واوريدو، داسی لکه چې څوک په تيږ هدېوال وهي. ده فکروکړو چې موږکان يا بل ځناوربه وي. خو دا غږ تردريو ساعتونو اورېدو. دده هيله پيدا شوه چې ممکن يو بندي د تښتيدو لپاره هلې ځلې کوي او ارمان يې شو چې کاشکه ده ورسره مرسته کړی وې. خو بيا يې چرت ووهلو چې کيدې شي چارواکي په يوه خونه کی ماته شوې دروازه جوړوي.

په بله شپه هم دا غږ په يو ټاکلي وخت پيل شونو ايډمنډ يوه تيږه راواخسته او خپلدېوال يې پرې دری واری وټکوو.ناڅاپه غږ بند شو. ده ترڅو ساعتو ورته غوږ ايښې و خو بيا يې هغه غږ نه اوريدو. ده سهار ډوډۍ وخوړه او د غږ د اوريدو په انتظار شو. دری ورځې هم داسی تېرې شوې. په څلورمه ورځ محافظ ورته ډوډۍ راوړه او ولاړو نو ده بيا ددېوال د ټکيدو غږ واورېدو. دده پورا باور و چې يوچا په دېوال کی سورې جوړوو. ده خپل کټ لهدېواله ليرې کړه او اخوا ديخوا يې وکتل چې يو شي سره دېوال وتوږي خوهيڅ ورسره نه و. ده د اوبو چيني جګ په زمکه وغورځوو او مات يې کړو. نوری ټوټې يې په خپل ځاې پريښودې او يوه يې ددېوال نه د خاورې ويستلو لپاره وکاروله. خودېوال د تيږې جوړ و او د چيني په ټوټه يې څه نشو کړې. سهار ده خپله بستره ددېوال سره کړه او محافظ ته يې ووېل چې د اوبو څښنلو پر وخت تری جګ مات شو. هغه ماتې ټوټې ليرې نکړی او بل جګ يې ورته راوړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډانتې په هغوماتو وړو ټوټو هره ورځ ددېوال سیمنټ توږل او په دریو ورځو کی یې یوه خښته رابرڅیره کړه. په څو ورځو کی دی د خښتې د خوځولو جوګه شو. په دی وخت کی هغه ددېوال نه وراخوا یو انساني غږ واوریدوچې له ده سره یې خبری کولې. دا سړې ایبې فاریه نومېدواو له ډانتې یې د نوم او د نورو پوښتنو نه وروسته ووېل.

ایبې. زه اته کاله کیږي چې په دی زندان کی یم. خو دا راته ووایه چې تادېوال په کوم ځای کی توږلې دې؟

ډانتې. له زمکې سره او زما د کټ شا ته دی.

ایبې. ستا خونه کوم لوري ته خلاصیږي؟

ډانتې. دننه دهلیز کی چې مخ یې غولې ته دې.

ایبې. ما څومره لویه اشتباه وکړه. هغه څه چې ما پلان کړي و له هغې پینځلس میټربره مې دېوال سوري کړې دې. ما فکر کوو چې دا ستادېوال د زندان بهرنی دېوال دې.

ډانتې. په دی خو به ته د سمندر لوري ته تلې.

ایبې. هم دا مې غوښتل او که داسی شوې وې نو سمندر ته مې ټوپ وهلو او نږدې جزیروته مې ځان رسولې وې.

ډانتې. دومره لیری به دی لامبو وهلې شوی؟

ایبې. خدای به توان راکړی وې. خو ته اوس نوردېوال مه توږه.

په راتلونکو څو ورځو کی دی دواړو بندیانو هغه وخت ددېوال له سوري یو بل سره خبری کولې چې محافظان به تللي و. بیا یوه ورځ ایبې ددېوال خښتې لیری کړې او دده خونې ته رادننه شو. ډانتې دده په لیدو دومره خوشاله شواودې یې کړکۍ ته بوتلو چې مخ یې ووینې. ایبې یو سپین ږیری سړې و چې نرې نروچکې او وړوکې قد یې لرلو. هغه لومړې دېوال معاینه کړو چې ددی خښتې به څنګه بیرته اږدي چې محافظ پری شکمن نشي. ده ډانتې ته ووېل چې د تیږې د توږلو او د سوري د جوړولو لپاره یې ټول اوزار پخپله جوړ کړي و. د اوسپنې یوه ټوټه یې دکټ له لرګو نه بیل کړی او چاقو یې تری جوړکړی و.

ایبې فاریه د اطالیې اوسیدونکې ولوستې سړې او په څو ژبو کی یې خبری کولې شوې. ده ډانتې ته ووېل، زه هر وختې د خپل ځان د ښه کولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپاره کارکووم. پخپلو کميسونو مې ليکنې کړي دي، ځان ته مې قلم او رنګ پيدا کړي دي. ډانتې ورته ووېل، رنګ دی څنګه جوړکړو؟ ده ووېل، "زما د خونې په يوګوټ کی پخوا يوه بخاري وه چې وروسته يې بنده کړه. ما وليدل چې د هغی سره د سکارو او د ايرو ټوټې وې. دا مې ميده کړل او په لړو اوبو کی می په ګډولو تری ښه رنګ جوړکړو." ډانتې ته يې ووېل، ته هم په دی زندان کی پخپل ځان کاروکړه. نوی کسب يا نوی هنر زده کړه.

په بله ورځ د محافظ د تلو نه وروستو، ډانتې د خپلې خونې له دېوال هم هغسې خښتې ليرې کړې چې ايبې فاريه ورته چل ښودلې و او دده خونې ته ولاړو. ايبې د وخت د معلومولو لپاه د لمر يوه وړانګه ورته په ګوته کړه چې ددېوال په بيلا بيلو برخو راتاويده او په دی توګه ده په دېوال دساعت نښې کښلې وې. هغه بخاري چې پخوا بنده کړی شوی وه، ده پکی سورې کړې او هغه ټول شيان يې د خښتوشا ته پټ کړي و چې څو کالو راهيسې يې پرې دېوال توړلو. ده خپل کميسونه په وړو وړو برخو شلولي و او وربانديې د اطاليې تاريخ ليکلې و. ډانتې تری پوښتنه وکړه چې دومره کار به يواځې د ورځې په رڼا کی کولې شوې. ايبې ورته ووېل، "ما ځان له ډيوه هم جوړه کړې ده. کله چې دوي مونږ له غوښه راکوي، نو زه له هغې وازده بيله کړم او هغه د ډيوې د بلولو لپاره کاروم." دا چې ګوګړ يې له کومه کوو نو ايبې ووېل، ما دوي ته وېلي دي چې زه د څرمنې په ناروغۍ اخته يم او سلفر ته اړتيا لرم. دوي راته معمولي سلفرراکوي چې زه يې د اوربلولو لپاره کاروم. ډانتې چې څومره د ايبې خبری اوريدې د انساني زهن او استعداد په اړه يې معلومات هم زياتيدل.

بيا ايبې د ډانتې کيسه واورېده چې هغه په کومو حالاتو کی زندان ته راغلې و. دده خبرو د اورېدو نه وروستو يې ترې پوښتنه وکړه چې دده په ورکيدو ترټولو زياته ګټه به چا ته شوې وي. ډانتې چری په دی اړه سوچ نه و کړې. خو اوس يې ووېل، که دی نه و نو کپتاني به ډينګلر ته رسيدلې وې. بيا يې ورته د ليک په اړه ووېل چې لوی څارن وال ته چا ليکلې واو خط يې کوږ و. ايبې خپل قلم راواخستو او په ګس لاس يې يو څو توري په تيره وليکل نو ډانتې حيرانه پاته شو. هغه ليک په هم دې خط ليکل شوې و. ايبې تري د مرسيډيز په اړه وپوښتل چې ايا بل څوک داسی و چې له هغې سره يې واده غوښتو. ډانتې د فرنانډ نوم ياد کړو. خو ايا دا ليک به فرنانډ

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیکلي وي نو ډانتې ووېل، "نه هغه به زه وژلې وې خو دا کار یې نشو کولی دومره ولوستې نه و." ایبې د نورو کسانو په اړه هم پوښتنې وکړې او د قاضي د لیک د سیزلو په خبره یې ورته ووېل، " ته ډېر ساده یې. په لیک چې کوم نوم لیکلې و هغه کس زه پیژنم چې ستا د قاضي پلاردی او د نپولین ملاتړیې کوو. قاضي لیک ددی لپاره وسیزلو چې پلار یې د بغاوت په تور ونه نیول شي، ددی په بدل کی یې ته تورن کړې او دلته یې راواستولې."
په هغه شپه ډانتې پخپل کټ ناارامه پروت و. له ده سره څومره خلکو دوکه کړی وه او دی تری هیڅ خبرنه شو. دده په زړه اور بل و او غوښتل یې چې له بنده ووځي اود ټولونه خپل بدل واخلي. په بله ورځ ده د ایبې سره خپل احساسات شریک کړل نو هغه ورته ووېل، "د وینو تویولو نه هیڅ نه جوړیږي. ته لومړی دا پلان جوړ کړه چې له دی زندان به څنګه ووځې؟"
ډانتې ورته ووېل چې یوه ورځ به محافظ ونیسي، پړ به یې کړي او له خونې به ووځي. خو ایبې ورته ووېل، "بهربه نورمحافظان درته ولاړ وي او دوي به دې د نیولو سره مړکړي. که مړنه شو نو له دی نه هم قوي زندان کی به دې واچوي او تراوسه چې دې څه تر لاسه کړي دي، په اوبو به لاهو شي.
په دی دواړو بندیانو یو کال نورهم تېرشو او په ګده د تیښتې په پلان یې بیا غوروکړو. دوي ددېوالونو نقشه جوړه کړه او د سمندر لوري ته یې د لاری ویستلو کارپېل کړو. ډانتې د ایبې فاریه نه د اطالوي ژبې زدکړه اود علم او د پوهې رڼا ترلاسه کوله. دوي د لرګي اود ټوکر په ترلو یوه زینه هم جوړه کړی وه. خو یوه شپه ایبې فاریه سختې تبې ونیولو. ډانتې دده په وینا د کټ په بازو کی پټ د دارو یووړوکې بوتل ورته په خله کی وڅڅوو اوډېرناهیلې خپلې خونې ته راغلو. په راتلونکو څو ورځو کی یوډاکټر د ایبې علاج کوو. یوه ورځ ډانتې دده خونې ته ولاړو نو ایبې په کټ ناست و او ښه معلومېدو. ده د خپل توشک نه یو تاو شوی کاغذ او یوه قطب نما راویستل. بیا یې ورته ووېل چې دا د یوې خزانې نقشه ده چې د مونټې کرسټو په ټاپو کی پټه ایښې ده. ډانتې ورته د زوې په شان ایسېدو او په دی څو کلونو کی ده ورته څرګند کړل چې د باور وړاو نیک انسان و. بیا یې ده ته ووېل، په هغه حال کی چې زه له زندان تا سره یو ځاې ولاړ نشوم او ته ووتلې، نو دا خزانه به تر لاسه کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا یې ده ته د خزانې ټول تاریخ بیان کړواو دا چې ده پخپله هغه خزانه نه وه لیدلې خو ددی د شتو په اړه لرغونومتنونو کی لیکلي دي. خلک په دی خبره به وخاندي خو دا نقشه به تا ته لاره وښاي. ډانتې ددی ټاپو په موقعیت خبرو ځکه ددوي بحري بېړۍ څو واري له دی ټاپوتېره شوی وه. ډانتې غوښتل چې نوری پوښتنې تری وکړي خو په دی وخت کی د محافظ د پښنو ښکالو یې واوریده نو نقشه او قطب نما یې واخیستل او ددېوال د سوړې نه خپلې خونې ته راغلو.

په بله ورځ ایبې د ډانتې په لاسونو کی ساه ورکړه اودې خفه او ناهیلې خپلې خونې ته ولاړو. هلته تر ناوخته یې د خپل دېوال سره غوږ ایښې و چې د محافظانو غږ واوري چې دوي څه کول.

د زندان مشرمحافظانو ته امروکړو چې دده مړې دې په یوې بوجۍ کی بند کړي اونیمه شپه یې جنازه وکړۍ. څوشېبې وروسته یو چا د ایبې مړې له کټ لیرې کړو اوبوجۍ کی یې واچوو. کله چې هلته خاموشي شوه نو دانتې چرت وهلو چې دی بیا یواځې شوی و. ترډېره وخته ده د خپل ژوند او د ایبې د ژوند په اړه سوچونه کول او اخر یوی نتیجې ته ورسیدو. دی د ایبې خونې ته ولاړو او د هغه مړی یې له بوجۍ راوویستو. هغه یې خپلې خونې ته بوتلو او په کټ یې سملولو، څادر یې پری وغوړوو. کوټه یې هم هغسې پریښوده اوڅو شیان یې پخپلو جیبونو کی کیښودل. دی د سوړې له لارې د ایبې خونې ته ولاړو او په هغه بوجۍ کی یې ځان بند کړو چې د ایبې مړې پکی ایښې و. د شپې دولس بجې دوه محافظان د ایبې کوټې ته رادننه شول او بوجۍ یې راواخسته.

یو محافظ. څومره دروند دی. دی خوډېر سپین ږیرې او کمزوري ښکاریدو.

بل محافظ. خلک واي چې انسان څومره زړیږي نو هډوکي یې درنیږي.

یو. تا د بوجۍ سرتړلې دې؟

بل. له دی ځایه ولې دومره وزن یوسو؟ هلته نږدې به یې وتړو.

یو. ته ښه واې.

افسر. (د پښنو په دربۍ) یوه رښا راوړۍ چې بوجۍ وتړو.

بل. صیب ، دومره وزن به بس وي؟

افسر. هو دا بس دی. له پښنو سره یې وتړۍ چې مخې سره په اوبو کی ډوب شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو. هوا ښه نه ده او څپې هم په زور دي.
بل. هو. ايبې به نن ښه لامبو ووهي. ( ټول خاندي)

په څو شپبو کی ډانتې خپل ځان د محافظانو د لاس نه په هوا کی د پورته کیدواحساس وکړو او له خلي يې يوه کريکه ووتله. په سمندر کی د غورځيدوسره ده په لاس کی نيولې چاقو سره د بوجۍ سر پرانستې اود پښو وزن يې پريکړې و. پخوا له دی چې دی د اوبو تل ته ورغلی وې ، ده په اوبو کی لامبو ووهله. دی خبر و چې د سمندر په وړوټاپوانو کی په کوم يو خلک نه اوسيدل او هغې کی يو ته يې مخه کړه. د ازادۍ د احساس سره د هغه وجودنوی توان موندلی و. ده د يو ټاپو په غار کی لړه دمه وکړه او سرزوري څپو ته يې کتل.
دده نه لږ ليرې يوه وړه کشتۍ په طوفان کی چپه شوی وه اود خلکو چيغې يې اوريدې شوې. دده لپاره اوس دا فيصله کول و چې هم هلته په ټاپو کی پټ شي او که يوې لوې بېړۍ ته ځان ورسوي چې ليرې د مارسېل په ساحل يې لنګر اچولې و. په دواړو کی دده دنيول کيدو خطر و. که په ټاپو کی ايساريدو نو خبر نه و چې ژوندې به پاتې شي او که نه. د چپه شوې کشتۍ نه يو څو شيان دده په لوري راغلل چې د ملاح ( مانو) يوه خولۍ پکی وه. ده لاس وروړاندی کړو، دا خولۍ يې ونيوله او په سر يې کړه.
بيا د ماتې کشتۍ په يوه تخته يې ځان واچوو او ورو ورو هغه لوې بېړۍ ته ورنږدې شوچې د ساحل نه ليرې روانه وه.
اوس د سهار رڼا خپره وه ، دی راپاسيدو اوبېړۍ ته يې خپله خولۍ وخوځوله. د لوې بېړۍ نه دوه کسان په وړی کشتۍ کی ورته راغلل او دې يې له اوبو وويستلو. دی دومره ستړې و چې بې هوشه شو او چې سترګې يې وغړولې نو د لوې بېړۍ په عرشه پروت و او د زندان د ټاپو نه ليرې راوتلې و. ډانتې د دی اطالوي بيړۍ کپتان ته خپله کيسه تېره کړه چې دې د يو ټاپو اوسيدونکی و اوپه چپه شوې بېړۍ کی يې کارکوو. د ځان له هوسا کولو وروسته ده ووېل چې کولې شي چې ددوي لپاره کاروکړي.
کپتان ورته راضي شو نوده خپله ږيره او ويښته وخريل. د زندان د ټاپو په سر په شين اسمان سپين لوږې ښکاريدو چې د يوی توپې د ډز نه وروسته راپورته شوی و. دا د يو بندي د تيښتې اعلان و او دبېړۍ کپتان د ډانتې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخ ته وکتل خو ده دشرابو جام دومره په باور ځښلو چې دهغه پری شک ونشو.
هغه بېړۍ یوه ورځ وروسته د مونتې کرسټو له ټاپوتېره شوه او ډانتې غوښتل چې د ايبې خزانه پکی ولټوي خو ده څوارلس کاله په زندان کې تېر کړي ونو انتظار او صبر یې عادت شوي و. کومې بېړۍ چې ده ته پناه ورکړی وه د قاچاق وړونکو وه او یوبندر کی ورباندی ډزی وشوې چې ډانتې یې ټپي کړو. خو دی خوشاله و چې په زندان کی نه و. دوه نیمې میاشتې هم دغسی تېرې شوې او ډانتې په بېړۍ کی څو ملگري جوړکړل چې یو پکی جیکب نومېدو.
د خپل قرارداد د پای ته رسیدو نه وروسته کپتان ته یې خواست وکړو چې یوه کشتۍ دی ورله ورکړي چې دی د مونتې کرسټونومی ټاپو لیدل غواړي. دده سره یو څو کسان هم مله و. خو هغسی چې ایبې فاریه د خپلو معلوماتو له مخې ورته وېلي و، ډانتې په دی ټاپو کی داسی زړې کنډوالې ونه موندلې چې پکی د یوی خزانې درک شوې وې. ده پخپل ټوپک یوځنگلي اوزه وویشتله او جیکب ته یې ووېل چې د نورو ملگرو سره دا په اور وریت کړي ترڅو دې د ټول ټاپو جاج واخلي. دی په بره روان و او اخر د یوې غونډۍ په سر چې ورسیدو نو ښکته په ساحل ورته خپل ملگري د وړو وړو نانځکو په شان ښکاره شول. ده سوچ وکړو، چې څو میاشتې د مخه دده لپاره تر ټولو مهم شې، له بنده وتل و خو اوس د خزانې لټون ورته مهم و. انسان څومره ژرخپل بده ورځ هیره کړي، ددی اندازه ورته اوس وشوه.
ده د ټاپو هری تیرې ته کتل او چارچاپیره وگرځیدوخو هیڅ نښې یې ونه موندلې. دده ملگرو چې اوزه پخه کړه نو یو هوای ډز یې وکړوچې ډانتې راښکته شي او له دوي سره ډوډۍ وخوري. دی ښکته په منډه روان وچې یو ځای یې پښه واوړیده او راپریوتو.
په مونتې کرسټو نومی ټاپو کی ډانتې په یوې ژوری کندی کی ټپي پروت واو دده ملگرونشوکولې چې راوېباسي. ده خپل ځان څو گامه لیرې یوې تیږې ته رسولې و چې وربانډی واښه ټوکیدلي و. دده ملگرې باید په هغه ماښام بیرته لوې بېړۍ ته تللي وې. نو یو څه خواړه او اوبه یې ورته پرېښودل او پخپله د ټاپو نه ولاړل. دوي کله چې کپتان ته ټول حال تېر کړو نو هغه ووېل، داسی ښکاري چې دډانتې پوښتۍ ماتې شوې دي. دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

پخپله په بلې کشتۍ کې کښیناستو او د ډانتې د ژغورلو لپاره ولاړوخو هغه د خوځولو نه و. ډانتې دوي ته مننه وکړه او وې وېل چې دی تکړه کس دی که ځان یې له کندې راویستلو نو بیا به یې ووینې.
ببړۍ یوه اوونۍ وروسته راګرځېده نو جیکب ووېل ، زه به خپل ملګري سره پاته شم او دده ساتنه به وکړم. خو ډانتې ورته ووېل دې هیڅوک له ځانه سره نه غواړي اوډېر ژربه پخپلو پښو ودریږي. کله چې دده ملګري ولاړل نو دې نیغ ودرېدو او خپل تبرسره یې د هغې تیږې شاوخوا توږل پېل کړل چې ده پرې ډېره وهلې وه. هغه دا هڅ وهلې و چې ددې تیږې شا ته به څه وي نو ځکه د ټېې کېدو پلمه یې وکړه. د تیږې شا ته ده یوه لاره وموندله چې دننه یوغارته تللې وه. هم هلته یې د لرګي یو تابوت ولیدو چې پکې د سرو زرو سیکې، سیخونه او الماس او زمرد ایښي و. دا هغه خزانه وه چې په زندان کې ایبې فاریه ورته نښې ورکړې وې.
په شپږمه ورځ چې ببړۍ بېرته ټاپو ته راغله نو ډانتې دخپلو ملګرو په انتظار په ساحل پروت و او ټولو ته یې ووېل چې دی اوس پخوا نه ښه و. دده له مخ داسې هیڅ نښې نه وې ښرګندې چې ګوندې دده په لاس یوه لویه خزانه ورغلې وه. دی ببړۍ ته یوړل شو او په هغه ماښام چې یو بندر ته ورسېدل نودی بازارته ولاړو. هلته د نورو ملګرو نه بېل شو او یو زرګر ته یې څلوردانې واړه الماس وښودل. دی ویریدو چې دده په شان غریب ملاح سره دالماسو په لیدو به زرګر ترې پوښتنې وکړي خو هغه هیڅ وونه وېل او دا یې ترې په پینځه زره فرانک واخستل.
ډانتې څو ورځې د ارام کولو په پلمه هم هلته پاتې شو او جیکب ته یې ووېل چې دده یو تره مړشوی دی چې په میراث کې یې ورته پیسې پریښې دي. په هغو پیسو ده یوه زړه ببړۍ واخیسته چې جیکب ورسره مرسته وکړه او هغه یې مارسېل ته واستولو چې د کورنۍ او نورو کسانو په اړه ورته معلومات وکړي.
ده یوه بله ببړۍ هم واخسته چې پخپله یې چلوله او د مالونو د وړلو راوړلو کارېې پېل کړو. دا ببړۍ په هره پیره کې د مونټې کرسټو ټاپو سره به ارو مرووډرېده. ډانتې به څو ساعته په دې ټاپو ځان له تېرول او ورو ورود خزانې ټول توکي یې راوویستل او په بېلا بېلو ښارونو کې یې خوندي کړل.
میاشت وروسته جیکب ورته دمارسېل خبرونه راوړي و. دده پلارمړ واو د مرسیډیز درک نه و. د خپل پلار په مړینې دې حیرانه نشو خو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرسيډيز په اړه نه پوهيدو چې هغه به چرته وي. څو ورځې وروسته دی پخپلې بېړۍ کی د مارسېل بندر ته ورسيدو او د ګمرک کسانو ته يې د انګلستان پاسپورټ ورښکاره کړوچې دده نوم نواب وېلمورپړی ليکلې و. په بندرکی دده ځينې شناخته کسان اوس هم په کار اخته و خو هيچا دی وونه پيژندلو.

ډانتې د خپل پلارکورته ولاړو چې اوس بل څوک پکی اوسيدل اوله خفګان يې په سترګو کی اوښکی راغلې. ده د پلار په کور کی څوشېبې تېرې کړی اود ګاونډي په اړه يې پوښتنه وکړه نو خبر شو چې هغه اوس په يو بل ښار کی سراې جوړکړی او هم هلته اوسيدو. ډانتې د هغه سراې درک معلوم کړو اوپه يو اس ورته روان شو.

د سراې خاوند د لوې دروازې نه بهر سړک ته کتل او د مشتريانو په انتظار و چې په اس سپوريو کس يې وليدو. هغه چې رانږدې او له اس ښکته شو نوده يې د لباس نه هڅ ووهلو چې ممکن يو پادري و. هغه ته د هرکلي نه وروسته ترې پوښتنه وکړه چې څه خدمت يې وکړي. پادري چې هوسا شو نو له ده يې پوښتنه وکړه چې څوارلس کاله پخوا يو کس د ايډمنډ ډانتې په نوم يې پيژندلو؟ د سراې خاوند ورته ووېل، هو هغه څنګه نه پيژنم، زما ملګری و. هغه مظلوم په يو جرم نيول شوی و او هم هلته په بندي خانه کی مړشو. پادري ووېل، "ډانتې چې مړ کيدو نو زه يې د کټ سره ولاړوم او وروستي دعاګانې مې ورسره وېلې. خو ده تر وروستيو شېبو هم دا وېل چې دی بې ګناه زندان ته اچول شوی و. ما ته يې يو الماس راکړوچې يو بوډا د خپل خدمت په بدل کی ده له ورکړی و. دا الماس پنځوس زره فرانک بيه لري اوما سره دی." دا يې ووېل او له خپل جيب يې يو ډبلې راويستلو چې پکی د الماس يوه ښکلې ګوته ايښې وه. پادري ووېل، " دا يې امانت راکړو چې خرڅ يې کړم او په مارسېل کی په پينځو کسانو يې وويشم چې يو پکی ته يې." سړی وريږديدو او رنګ يې والوتو. پادري ووېل، "هغه بل کس ډينګلر، دريم چې وېل يې دده رقيب فرنانډ و. خود چنغلې نوم يې رانه هير شو." سراې والا په تلوسه ووېل، " مرسيډيز.مرسيډيز!"

پادري ووېل، " هو... هم دغه نوم يې راښودلی و. پينځم د هغه پلار و چې نن خبرشوم، مړ دی. غواړم ته راته ووايې چې هغه څنګه مړ شو." سراې والا په جوش ووېل، "ولې نه. زه د هغه ګاونډي ووم. خلکو وېل چې هغه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

زوې له غمه مړشو او ډاکټر وېل چې کولمې يې خرابې وې خو ما ليدل چې هغه زوړسړې د ولوړې د لاسه مړ شی و." پادري ټکنې شو او وې وېل، "دا څنګه نړۍ ده چې يو بوډا ته ډوډۍ چا نشوه ورکولی. خوکه غواړې چې د الماس دوه برخی زه تا ته درکړم نو دا ووايه چې فرناند څه شو؟" سراي والا د ډانټې د نيول کيدو په اړه ورته ټوله کيسه تېره کړه او دا چې څنګه ډينګلرپه ګس لاس ليک وليکلو او فرناند هغه لوی څارن وال ته ورواستوو. د مرسيډيزپه اړه يې ووېل چې تل به خپل خسر ته راتله او ورته يې ووېل چې له دی سره دی ولاړ شي خو هغه د زوې په انتظار و. موريل هم څو واری ددوي کورته راغلو او د ډانټې پلار يې له ځانه سره د اوړلو هڅه وکړه خو دي نه تلو.

پادري تری د موريل پوښتنه وکړه نو سرای والا ووېل، "هغه اوس يو خوارسړی دی، کاروبار کی يې تاوان وکړو، لور يې کويژده ده خو خسرګنی يې د غريب سړي لورنه غواړي. زوې يې په پوځ کی دې. په وروستي ځل دی د ډانټې پلارکورته ورغلی و او يو سوررنګ وريښمينه بټوه چې پيسې پکی وې ، هغه ته د ډوډۍ اخستو لپاره پريښوده. هغه بټوه اوس هم ما سره ده."

د پادري په پوښتنه هغه ووېل چې فرناند او ډينګلر په مزو کی دي. ډينګلر د موريل په واسطه د هسپانيې په يو بانک کی کارپېل کړو او د بانک د مشرلوريې واده کړه چې وروسته مړه شوه اوس يې بله ښځه کړی ده چې د باچا د يو مشاورلوروه. دی ميليونردې، د باچا دربار ته ځي راځي او اوس ورته نوابي خطاب هم ورکړی شوی دی. فرناند په پوځ کی جګړن واو د باچا د محافظانو په ډله کی و. يو جنرال چې د باچا مخالف و، دی ځان سره کړواو نصيب يې ښه و چې بل حکومت ورله ددی غدارۍ په بدل کی درونډ انعام او نوابي خطاب ورکړل. دی د ډينګلر ملګرې او اوس د نوي باچا پوځي مشاور دې. اوس د مورسرف نواب په نوم يادېږي او مرسيډيز يې ميرمن ده. دوي يو زوې لري چې البرټ نوميږي.

پادري د الماسو ګوته د سراې خاوند ته ورکړه چې دا ستا شوه ځکه هغه نور کسان ددی حقدار نه ګڼي. بيا يې تری د هغې سری وريښمينې بټوې غوښتنه وکړه چې موريل دده پلار ته پريښې وه.

څو ورځې وروسته د مارسيل د ښار وال دفتر ته يوانګريزتجار ورغلو او هلته يې د موريل د شرکت پوښتنه وکړه چې له دوي سره يې کاروبار کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی خبرشو چې هغه شرکت دوه لکه فرانک پور وړی اودېوالي شوی و.
هغه تجارچې په اصل کی پخپله ډانتې و، ښار والی ته خواست وکړو چې دی هغه شرکت اخلي. کله چې له ده پوښتنه وشوه چې څومره کمیشن به اخلي نو ده ددفتر مشر ته ووېل، زه د پیسو په ځای یو څه معلومات غواړم.
مشر. کوم ډول معلومات مو پکار دي؟
تجار. تاسو د بندي خانو مشر هم یئ؟
مشر. هو صیب، له تېرو پینځلسو کالو مې دا دنده پر مخ بیولې ده.
تجار. تاسوزندان ته د تلونکو او د خوشې کیدونکو نومونه هم په دوسیه کی لیکئ؟
مشر. هو په دی کی مونږ د هر بندي په اړه معلومات لیکلي دي. تاسو د چا په اړه معلومات غواړئ؟
تجار. ما زدکړی په کور کی کړی دي اود اطالیې ایبي فاریه په نوم استاد راته راتلو. وروستو خبر شوم چې هغه بندي شوی و، که د هغه په اړه څه معلومات لرئ.
مشر. دا سړی زه ډېر ښه پیژنم. روغ لیونی و. څو میاشتی کیږي چې مړشو. دده له مړینې سره یوه ډېره عجیبه پیښه تړلې ده. یو بل بندي چې ډانتې نومېدو، دده خونې ته یې سورې کړی و او د ایبې په کفن کی یې ځان بند کړو. هغوي چې دا کفن په سمندر کی وغورځوو نو خبرشول چې د ایبې مړی وو دده په خونه کی پرت و.
تجار.ډېره عجیبه کیسه ده.
مشر. دا د زندان دوسیه ده او تاسو کولې شئ چې په ارام یې وګورئ، زه به په بله کوټه کی د موریل د شرکت اسناد تیارکړم.

په هغه دوسیه کی د ایبې فاریه پرځای ایډمنډ ډانتې خپله پانه پرانسته. هلته په ده لګېدلې توراو د موریل عرضي وه. په یو بل کاغذ د قاضي لیکنه وه . هغه د تورونو کاغذ رابېل او تاو کړو او وروغوندی یې خپل جیب ته کړو. ده د موریل شرکت اسناد لاس لیک کړل او د ښار والی له دفتر ووتلو.
یو کس د ښارپه کاروباري مرکزکی د موریل شرکت دفترته ورغلو او ځان یې ورته د یو کمپنی د استاځي په توګه معرفي کړو. دی د موریل دفتر ته یوړل شو چې اوس سپین ږیرې او پخپل میز د دوسیو په ګیډی یې کار

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوو. ده ته یې د کپناستو ووېل او پوښتنه یې وکړه چې د څه لپاره راغلې و. استاځي ورته ووېل ستاسو د شرکت ټول پورزما شرکت له خوا پرې شو او اوس دا اسناد ما سره دي چې له ښار والۍ نه مې راوړل. موریل سترې ښکاریدو او وې وېل،" زه خبر یم چې څه کم درې لکه فرانک راباندی دي خو متاسفانه مونږ سره اوس دومره پېسې نشته چې تاسو ته یې درکړو. زما یوه بېړۍ د کلکتې نه راتلونکی ده او د هغې د مال کتلونه وروسته ممکن تاسو ته دا پیسې درکړو." استاځي لا په ځواب کی څه نه و وېلي چې د موریل د دفتر نه بهرڅوک په منډه بره راوختل او دروازه یې پرا نسته. د موریل ځوانه لورجولي چې سترګي یې له اوښکو ډکې وې دننه راغله او پلارته یې خبر ورکړو چې د کلکتې نه راتلونکې بېړۍ په سمندرکی غرقه شوی وه.

د موریل په دفتر کی دبېړۍ د ډوبیدو په خبرمایوسي خپره شوه نو هغه انګریز تجارچې په اصل کی ډانتې و ورته د څلورو میاشتو نور وخت ورکړوچې خپل پوروروته پریکړي. بیا یې د موریل لورجولي ته ووېل، یوه ورځ به ستا په نوم د سندباد له خوا یو لیک راشي. په هغې کی هرڅه چې لیکلي وي هم هغه وکړه. جینۍ ورسره لوزوکړو او دی له هغه دفتر ولاړو.

څلورمیاشتې تېرې شوې او موریل ونکړې شو چې خپل پور ورکړي او نږدې وه چې ځان یې وژلې وې چې د هغه لورجولي یو لیک تر لاسه کړو. په هغې کی ورته د ټول پور لپاره پیسې ورکړی شوی وې. د موریل د لور واده لپاره ورته یو قیمتي الماس او یوه بېړۍ هم ورکړی وه. دا هرڅه د ډانتې له خوا وشول چې اوس د مونټې کرسټو نواب په نوم پېژندل کیدو. خو موریل خبر نشو چې مونټې کرسټو ورسره دومره زړه سوي ولې لرله.

په اوړي کی د پاریس د شته من ټبردوه ځوانان چې یو پکی البرټ نومېدو، د سیل لپاره روم ته په بېړۍ کی د مونټې کرسټوټاپوکی ښکار لپاره ایسار شول. هلته یوڅو کسانو ورته ووېل چې دا ځای د یو نواب دی او دوي د هغه میلمانه دي. په روم کی د مونټې کرسټو نواب ورته ښه میلمستیا وکړه . دواړه ځوانان پوهه شول چې هغه ډېر شته من کس و. دوي د نواب سره ملګری شول او په یو ځای کی هغه د څو بدمعاشانو نه دالبرټ ژوند وژغورلو. پاریس ته دبېرته تګ نه وړاندی البرټ نواب ته بلنه ورکړه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددوي کور ته دی راشي. دده په راتگ هغه ورته د ډوډۍ میلمستیا وکړه او مونټې کرسټو په ډېرکرو فر ولاړو. ددوي په کورکی د یوی ځواني میرمنې انځور په لیدوهغه هیښ شو. ځوان ورته ووېل چې دا د هغه موروه خو نواب لپاره دا د مرسیډیز انځورو. ده خپل احساسات ځرگند نکړل خو ځوان ورته ترډېره وخته د مورخبری کولی. نواب مورسرف راغلو او له ده سره یې روغبړوکړو خو ډانټې یې وونه پیژندلو.
کله چې د البرټ موررراغله نو د نواب مونټې کرسټو په لیدو یې رنگ ژیړشو. خو خپل ځان قابو کړو اوده ته یې مننه وکړه چې د زوی ژوند یې ورته ژغورلی و. د مونټې کرسټو نواب اوس د پاریس په مرکز کی ځان له یوه مانۍ اخستي او د باچا دربار ته یې هم لاره پیدا کړی وه. د ډینگلر میرمنې د نواب مونټې کرسټو په اړه معلومات وکړل او خبره شوه چې دې د انگلستان اوسیدونکی وخو نوابي ورته په میراث کی نه وه پاتې. ددوي ټولو سره د نواب تگ راتگ پېل شول او په دربار کی یې هغه قاضي هم ولیدو چې دی یې زندان ته ورلیږلی و. ډینگلراوس د یو بانک مشر واو دده میرمنې د ونډو په بازا رکی ډېرې پیسې لگولې وې. مونټې کرسټو پخپلې سرمایې د بازارانډول وران کړو اوډینگلرخپلې میرمنې ته په قهرشو چې بې له دده پوښتنې یې سرمایه ضایع کړی وه.
اخوا د ډانټې د پلارگاونډي چې کوم الماس تر لاسه کړی و، ددی د خرڅولو لپاره یو زرگر ته ولاړو نو ورسره په بیه وران شو. د دواړو ناندرۍ په جنگ واوختې او ده زرگراو د هغه میرمنه ووژل. په ده جرم ثابت شو او زندان ته یې بوتلو. ډانټې دده مرستې ته ولاړو او له زندان یې ورته د تیښتې لاره ورویستله. خو گاونډي بیا هم خپل ځان سم نکړو او د یو بل ملگري سره د مونټې کرسټو کور ته د غلا لپاره ورغلو. هلته د مال په سر یې خپل ملگري ووژلو او پخپله هم ټپي شو. په دی حالت کی ډانټې دهغه پادري یادونه وکړه چې الماس یې ورته ورکړی و. د الماس اخستل ده ته د ښه ژوند کولو یو بل چانس ورکړی و خو دی حریص و او په نتیجه کی یو پسي بل جرمونه وکړل. ددی وېنا سره هغه ورته خپل ځان ورڅرگند کړو چې دی په اصل کی ډانټې و. هغه وخت گاونډي د خداې نه بخښنی غوښتلي او هم په هغه حال مړ شو.
فرنانډ مونډیگو چې اوس د نواب " مورسرف" په نوم پیژندل کیدو د خپلې غدارۍ خبره د ټولونه پټه کړی وه ان چې میرمنه او زوی یې هم خبرنه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو یوه ورځ دپاریس په یوی ورځپاڼي کی راپور خپورشوچي شل کاله پخوا د یونان یوه کلا د فرناند په محافظت کی وه، خوده په چل ول دا کلا د باچا مخالفانو ته تسلیم کړی وه. د هغه کلا مشریي وژلي او دده لور یي لکه د مینځي په بازار کی خرڅه کړی وه. هغه جینۍ چي هیډي نومیده ددی ټولو کیسو شاهدي په محکمي کی ورکړی وه . په کومي ورځپاڼی کی چي دا خبرچاپ شو، هلته د البرټ یو ملګري "بوشامپ" هم کار کوو. دی د هغه دفتر ته ورغلو او ورځپاڼه یي ورښکاره کړه.

البرټ. زه غواړم چي ته سبا یو بیان چاپ کړی چي د یونان د کلا خبر غلط و.

بوشامپ. دا خبر تا پوری څه اړه لري؟

البرټ. فرناند زما د پلار نوم دی. په دی زما د پلار سپکاوي شوي دي.

بوشامپ. نو تا سره څه ثبوت شته چي ستا پلار کلا خپلو دښمنانو ته نه وه سپارلي؟ دا خو د پلټني وړخبردی. ښه ده ستاسو د کورنۍ له خوا دفاع به هم پکی ووشي.

البرټ. ( په قهر) نه ددی خبرد پلټنو اونه یي دفاع ته اړتیا ده. زه درته وایم چي دا بیان دی سبا ته خپور شي که نه...

بوشامپ. که نه څه به وکړی؟ جنګ راسره کوي؟

البرټ.هو، هو ، جنګ به وکړم.

بوشامپ. ګوره، ګواښونه مه کوه. لومړی خو دا خبر ما نه دی چاپ کړی. بله دا چي ترڅو ددی په اړه چا خپل نظر نه وي رالیږلي او یا چا په رسمي توګه ورځپاڼي ته خواست نه وي کړی، زه ستا خبره نشم منلی.

البرټ.سمه ده. نن ماښام خپل ملاتړي راواستوي چي زمونږ د جنګ ځاي وټاکي.

بوشامپ. ته خبره واوره، اي...ودریږه..( البرټ ځي)

څوورځي وروستوبوشامپ د یونان سفر وکړو اوپه دی اړه یي معلومات راټول کړل. ده د البرټ سره ولیدل او هغه ته یي څو اسناد وړاندی کړل چي پکی دده د پلار جرم ثابت شوی و. بوشامپ ورته ووېل چي که دی چا ته غږ ونکړي نو هغه به دا راز چا ته نه څرګندوي چي پایله یي د مورسرف د کورنۍ په تباهۍ وه. البرټ ټول کاغذونه وسیزل او دواړوملګرو روغه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ډینګلر د لور کویژدنه د البرټ سره شوی وه خو په دی وخت کی یوبل نوابزاده چې "انډریه" نومېدو، د مونټې کرسټو له خوا دې کورنۍ ته وروپېژندل شو. ډېر ژرد ډینګلر لوردانډریه سره مینه پیدا شوه. ددی کویژدنې ماتیدل د نواب مورسرف او ډینګلر کورنیولپاره د خواشینۍ سوب شو او ددواړویو بل سره ورانه شوه. ډینګلرد انډریه په اړه خوش بین و چې دې به له البرټ ښه زوم ورته ثابت شي. خومونټې کرسټو معلومات وکړل چې انډریه په اصل کی د قاضي وېلفونټ د دویمې میرمنې زوې و چې ده د بدنامۍ له ویرې مرګ ته پریښې و. هغه ماشوم یو خدمت ګار وژغورلو او وروسته دی یو نواب خپل زوې په توګه لوې کړو. هغه خدمت ګارد مونټې کرسټو نواب سره ملازمت وکړو نو یوه ورځ یې ورته د هغه ماشوم اصلیت ورڅرګند کړو. خدمت ګار په یوه قضیه کی محکمې ته حاضر شو نو د قاضي په اړه یې ټول حال ووېلو. په نتیجه کی هری خوا د دده نوم بد شو. دقاضي میرمنه دومره ناهیلې شوه چې د خپل ځان وژلو نه وړاندې یې د کور ټولو غړو ته زهر ورکړل چې هیڅوک ددی بدنامۍ د زغملو لپاره ژوندی پاته نشي. قاضي چې دا خبر واوریدو نو جامې یې وشلولې اولیونې شو. خو مونټې کرسټو دده لوروېلینټاین وژغورله ځکه د موریل زوې "مېکس" له هغې سره مینه لرله. مېکس له دی خبر نه وخو په یوه پیښه کی ډانټې موریل ته خپل ځان وروپیژندلو.

نواب مورسرف ته یو ورځ خبر ورسیدو چې د پاریس په ورځپاڼو کی دده دتېرژوند اود غدارۍ په اړه لیکنی شوې وې. هیډي نومې جینۍ په ده دعوا کړی وه چې ددی ژوند یې تباه کړی و. محکمې ورته امر وکړوچې خپل سپیناوۍ لپاره حاضر شي. مورسرف د بوشامپ په وېنا د "مونټې کرسټو" کور ته ورغلو چې له هغه غوښتنه وکړي، هیډي دی له محکمې لاس واخلي.

مونټې کرسټو د هیډي سرپرست و او هغه ته یې ډاډ ورکړوچې دې به یې پوهه کړي. خو هېډي له مورسرف لیدو ډده وکړه. البرټ د خپلې مور په خواشینۍ د مونټې کرسټو سره پخپله ولیدل او د ملګرتیا واسطه یې ورته ورکړه چې دده پلار دی له بدنامۍ وژغوري. مونټې کرسټو ورته انکاروکړونو البرټ هغه ته د جنګ لپاره ننګونه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هغو ورځو کی دا د فرانسی دود و چې د خپل ناموس لپاره به یو چا خپل حریف ته د جنګ ننګونه وکړه او په ټاکلي وخت او ځاې به دواړو کسانو د یو یو ملګرې په ملتیا بل سره جنګ کولو. د وسلې غوره کول او د جنګ شرایط به ددوي ملو پخپلو کی فیصله کول. زیات وخت به په داسی جنګونو کی خلک مړه شول. البرتې چې مونټې کرسټو ته د خپل پلار د ناموس د ساتنې لپاره ننګونه وکړه نو دده ملګرې بوشامپ دده مله شو.
مونټې کرسټوموریل ته خواست وکړو چې خپل ورور دی ورسره مله کړي. د شپې مونټې کرسټود جنګ لپاره ځان تیار کړو اود خپلې طماچې معاینه یې کوله چې څوک په سالون کی راننوتل او د یوی میرمنې غږ راغو چې وېل یې "ایډمنډ...ودرېږه، ته زما زوې نشی وژلې." مونټې کرسټوهک پک پخپل ځاېودرېدو. هغی میرمنې خپل تور څادر له مخ نه لری کړو نو د مرسیډیز سپین مخ ښکاره شو. مونټې کرسټو ورته ووېل، " مادام تا د چا نوم واخستو؟" هغه ورنږدې شوه او وې وېل، " ستا نوم، ایډمنډ ډانټې، وګوره زه مادام مورسرف نه یم. زه مرسیډیز یم." مونټې کرسټو ووېل، "په دی نوم میرمنه اوس مړه ده او زه بل څوک مرسیډیز نه پیژنم." مادام ورته نوره هم نږدې شوه نو په سترګو کی یې اوښکی وې. ورته یې ووېل، "ایډمنډ تا به بل څوک نه پیژني خو ما په لومړي ورځ وپیژندلې، ستا غږ هم هغه دی او زما لپاره ته اوس هم ایډمنډ ډانټې یې، نه چې د مونټې کرسټو نواب. زما د زوې ژوند مه اخله."
مونټې کرسټو ورته ووېل، "ستازوې راته د جنګ ننګونه کړی ده او د ټولو په وړاندې." مرسیډیز ووېل، "دی زمونږ د کورنۍ د رسوایي سوب تا ګڼي ځکه یې داسی وکړل. فرنانډ تا ته کوم زیان رسولې و چې تا ورپسی راخستی ده. ددی لپاره چې ته بندي شوې او ده له ما سره واده وکړو؟" ایډمنډ ورته ووېل،" تا کله د خپل میړه نه پوښتنه وکړه چې زه ولې بندي شوم؟" مرسیډیز ووېل، "زه نه یم خبره. ولې بندي شوې؟" ایډمنډ ووېل، "ځکه چې فرنانډ زما پر ضد سازش وکړو اوزما په اړه د دروغو لیک یې څارنوال ته واستولو چې تا سره واده وکړي. ډینګلر ورته دا لیک ولیکلوچې ته یې ولوستلې شې."
هغه له جیبه یو تاو شوې کاغذ راویستلو او د مرسیډیزپه لاس یې کیښودو. مرسیډیز کاغذ پرانستو او وی ولوستو نو ایډمنډ ووېل، ته خبره یې چې ما څوارلس کاله د ټاپو په زندان کی تېرکړل، څوارلس کاله...او زما پلار د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولوړې د لاسه او زما په غم کی مړ شو. مرسیډیز وریږدیده اوله خفگان هم هلته د هغه په پښو کی په زمکی کښناسته.
مرسیډیز ایډمنډ ته خواست وکړو چې دده د زوی سره دجنگ نه دی لاس واخلي. دی ورته واي چې جنگ به کیږي خو دده زوی به ژوندی پاتې کیږي او په بدل کی به دی خپل ځان قرباني کړي. ده خپل وصیت ولیکلو او د جنگ لپاره ټاکلي ځاې ته ورغلو. خو کله چې البرټ د خپل ملګري سره راغلو نود ایډمنډ نه یې بخښنه وغوښته ځکه ده ته موردخپل تېر ژوند ټول حال وېلي و.
په هغه ماښام مرسیډیز د زوی سره مشوره وکړه او ورته یې ووېل، زه اوس نورستا د خاین پلارسره ژوند کول نه غواړم. البرټ ته یې امر وکړو چې هغې ته یوه ګاډی راوغواړي چې له کوره ولاړه شي او پاتې ژوند د کلیسا په یوراهب خانې کی وکړي. هغې د تلو لپاره تکل کوو چې یو قاصد ورته د نواب مونټې کرسټو لیک راوړو. په دی کی لیکلي و چې شل کاله پخوا کله دې د واده لپاره له بېړۍ راغلو نو خپله ټوله ګټه چې څوسوه روپۍ کیدې، خپلې چنغلې ته د واده لګښتونوته ساتلی وی. هغه یې د پلار د کور په باغ کی اینځر د ونې لاندې په یو وړوکي بکس کی پټ کړل. په ایمانداری ګټلې دا پیسې اوس هم هلته ایښي دي او مرسیډیزکولې شې چې په هغو پیسو یو نوی ژوند وکړي. دا چې هغه څنګه خبر شوچې دا به د نواب مورسرف سره نوره نه پاته کیږي، نولیکلي یې وچې زه داډېره ښه پیژنم او باور می دې چې دا پیسې به واخلي چې په اصل کې هم ددی وې.
البرټ چې مور ته وکتل نو هغې ووېل، زه به دا پیسې واخلم او په راهب خانه کی به مې پکار شي.
ډانټې پخپل کورکی و چې یو خدمت ګار ورته د نواب مورسرف د راتلو ووېل. په هم هغه لوی سالون کی چې مرسیډیز ورسره لیدلي و، دی د مورسرف سره مخ شو. هغه تری د خپل زوي په اړه وپوښتل نو ډانټې ورته ووېل، ده له ما بخښنه وغوښته او ما پریښودو ځکه د پلار د ګناه بدل له زوې نشم اخستې. مورسرف چې دا واوریدل نو رنګ یې ژیړ شو.
ورته یې ووېل، "په دی حالت کی باید د هغه پلار تا سره جنګ وکړي ځکه ته زما دښمن یې. خوزه دی تر اوسه نه پیژنم چې ته څوک یې؟ دومره خبر یم چې زما له تا نفرت دی." ډانټې ووېل چې دی د مونټې کرسټو نواب نه بلکه ایډمنډ ډانټې و. مورسرف ورته داسی کتل لکه چې باوریې نه کیدو

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د یو ژوندي سړي سره خبرې کوي. ډانتې ورته ووېل، "ما سره ستا د جرمونو ځو شواهد اوس هم شته چې یوه پکې ستا د جنرالۍ د ګټلو په اړه دی، ښاغلي فرنانډ. خو ترټولو لوی ظلم تا د هغې معصومې جینۍ او ما سره کړی دې چې د واده په ورځ دی له یو بل نه بیل کړل.

مورسرف د یو مات شوی کس په څېر له هغه کوره ووتلو او پخپل ګاډي کې کېناستو. دخپل کور نه په لږ فاصله کې له ګاډي ښکته او په پښو روان شو. ده په تیاره کې ولیدل چې میرمن او زوی یې د کراې په یو ګاډي کې کېناستل خو ځان یې ورته ښکاره نکړو. هغه ګاډې لا لوې سړک ته نه و رسیدلې چې د مورسرف په لوی ماڼۍ کې د طماچې یو ډز واوریدل شواو د یوې کړکۍ شیشه پرې ماته شوه. خدمت ګاران چې د نواب کوټې ته ولاړل نو ده طماچه په لاس د ژوند وروستۍ سلګۍ وهلې.

ډینګلرخپله ټوله سرمایه په ونډو کې بایللې وه او د پیسو د تر لاسه کولو یوه لاره ورته دا ښکاره شوه چې د بانک دمشرپه توګه د خپلو اختیاراتوناوړې ګټه واخلي. ده له بانک پیسې وویستلې او فکر یې دا وچې هر وختی ښې ډېرې پیسې یې وګټلی نوبانک کې به یې کیږدي. خو ده هغه پیسې هم وبایللې او له دی وېرې چې څوک پرې خبر نشي، مونټې کرسټو ته لاس وغځوو. هغه اوس خپل دښمن د وهلو لپاره یو پلان جوړکړو او کله چې یې ورسره ولیدل نو ډاډ یې ورکړو چې دی په نورو ملکونو کې هم شرکتونه لري او کولې شي چې یو سند ورله ورکړی او بل ځاې نه پینځه میلینه فرانک ترلاسه کړي.

دینګلر په پټه له پاریس لومړی بیلجیم ته وتښتیدو او بیا اطالیې ته ولاړو. د شرکت څانګې ته ورغلو او د نواب اسناد یې ورښکاره کړل چې د پېسود ورکړې په اړه و. هلته نه یې ټولی پیسې نغدی تر لاسه کړی اوډېر خوشاله بیرته روان شو. په لاره یو وړوکي سراې کې یې دمه وکړه او د سراې خاوند "پاپینو" نه یې د ډوډۍ په اړه وپوښتل.

پاپینو. تاسوچې خوړل غواړئ راته فرمایش وکړئ، هرڅه لرو. چرګ، مهې، د پسه کباب..

ډینګلر. نن شپه به مونږچرګ وخورو.

پاپینو. اې...هلکه..صیب ته چرګ راواخله.

ملازم. ( ډوډ ی راوړي) صیب دا مو چرګ او دا دی چاقو او پنجه، څه د څښلو لپاره هم راوړم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډینګلر. دا میز مو څومره مردار دې، ( چړه او پنجه رااخلي) خو خیر زه
وږ.ي یم.
پاپینو. صیب، زمونږ اصول دي چې مشتري نه د ډوډۍ خوړلونه وړاندې
پیسې اخلو.
ډینګلر. عجیبه اصول دی. څومره پیسې کیږ.ي؟
پیپینو. دا یو چرګ په پنځوس زره شو، او ډوډۍ مولس زره. د شرابو پیسې
به یو نیم لک شي.
ډینګلر. دا څه کیسه ده؟ د پیسې ارزښت مو لږ دې او که ما دوکه کوئ؟
پاپینو. صیب ، مونږ هم په دی بیه ډوډۍ ورکوو، که تاسو پیسې نه لرئ نو
بل ځای ولاړ شئ.
ډینګلر. اوس په دی شپه کی به چرته ځم؟

په بله ورځ ډینګلر قصد وکړو چې له هغه سرای ووځي خو خبر شو چې
سرای د غلو اډه وه او دی هلته لکه یرغمل ساتل شوی و. هغه ددوي له
مشر سره د لیدو غوښتنه وکړه. مشر راغلو نو ورته یې ووېل چې که
غواړي له دی بنده خلاص شي نو پینځه لکه فرانک تاوان به ورته
ورکړي، ځکه دی خبر شوی و چې هغه له یو شرکت دا پیسې اخستې او
ورسره وې. ډینګلرانکار وکړو او وې وېل چې که یو میلین اخلي نو وربه
کړي. د غلو د مشرپه امردی په یوه ته خانه کی بند کړی شو او په څلورمه
ورځ د ولوږې له کبله دده وجود لکه د مړو ښکاریدو. د پیسو د تاوان یې
دومره غم وکړو چې ټول ویښته یې سپین شول.
یوه شپه ده خدای ته زاریٔ کولې او له ځان سره لګیا و چې که دومره پیسې
ورسره نه وې نو اوس به په ازاده هوا کی یې ساه اخیستې شوه. په هغه
شپبه یې یوغږ واوریدو چې تری پوښتنه وکړه ایا دې پخپلو کړو پښیمانه و.
ډینګلر په حیرانئ پوښتنه وکړه د څه پښیماني؟ یو چا ورته ووېل، چې ده د
پیسو په حرص کی د خپلو پردیو ټولو سره جفا کړی وه. ډینګلر ووېل، هو
زه په خپلو کړو پښیمانه یم. ناڅاپه له دېوال یو سیورې دده مخ ته ودرېدو او
خپل توره چپنه یې لیرې کړه.
دا مونټې کرسټو و چې ورته یې وېل، که داسی ده نوما ته بخښلې یې. د
ډینګلر له خلې له ویرې یوه کړیکه راوتله او وې وېل، د مونټې کرسټو
نوابه ته دلته څنګه؟ هغه ورته ووېل، " زه نواب نه یم، زه هغه څوک یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې تاسو راته سازش جوړکړو، تش دبېړۍ د کپتان کېدو لپاره. ستا په سازش، زما واده ونشو او څوارلس کاله مې په زندان کې تېر کړل، وګوره راته، زه ایډمنډ ډانټې یم. خوهغه څوک چې له تا سره په دې سازش کې مله و، ستا په څیرخوش بخته نه و. یو لیونې ګرځي او بل خپل ځان پخپله ووژلو. ما هغه پنځوس زره چې له بانک دې اخستې وې، ادا کړی او اوس ته له نوي سره خپل ژوند کولې شې." ډینګلر خپل مخ په لاسونو کې پټ کړو او چې اوښکې یې پاکې کړې نو وې لیدل چې مونټې کرسټو هلته نه و.
مونټې کرسټو د موریل سره ولیدل او ورته یې ووېل چې دی غواړي ټوله شته مني هم ده ته پرېږدي. خو ده ورته انکار وکړو. د موریل زوې مېکس چې تر هغې خبر نه و چې دده چنغله وېلنټاین ژوندې وه، له مونټې کرسټو د لیدو وروسته ده ته د خپل زړه حال واې. دا چې هغه د وېلینټاین سره څومره مینه لرله. مونټې کرسټو هغه یوې بېړۍ ته ورواستوو چې ورباندې وېلنټاین دده په انتظار وه. هغې ورته ټول حال تېر کړو چې څنګه مونټې کرسټو له مرګ وژغورله او په دې بېړۍ یې د خپلې کورنۍ ماتم وکړو. هغه هم د مونټې کرسټو له ژوند خبره شوې وه او میکس ته یې ووېل، زما پلار دده مجرم دی چې د خپلو کړو سزا یې ومونډله.
د وروستې دندې د تر سره کولو لپاره مونټې کرسټو پاریس کې خپل کورته راغلونوهلته هېډې دده په انتظار وه. هغې ته یې ووېل چې دا د یو نواب لور وه اوکولې شي چې په قبرص کې خپل اباې ټاټوبي ته ولاړه شي ، هلته ددې نیکه تر اوسه ژوندی و. دا ځوانه وه او ددې لپاره یې دومره څه پخپلې شته منۍ کې پرېښې و چې دا په ارامه ژوند وکړی شي. ددې خبرې په اورېدو د هېډې رنګ وتښتیدو او مونټې کرسټو ته یې په ژړا ووېل، زما دا مال دولت نه دې پکار خوستا امر منل زما فرض دې اوهر څه چې ته واې هم هغسې به کیږې.
په هغه ماښام هېډې د وېلنټاین لیدو ته ورغله نوډېره دلګیره وه. کله چې هغې ترې وپوښتل نو وې وېل، نواب مونټې کرسټوزه د خپل ژوند نه وشړلم. زه خپل وطن ته بېرته تګ نه غواړم ځکه چې زه له ډېره وخته دمونټې کرسټوسره مینه لرم او له هغه جلا د ژوند تصورهم نشم کولې.
مېکس او وېلنټاین چې دا واورېدل نو هوډ یې وکړو چې دا به د مونټې کرسټوبېړۍ ته ورواستوي. هېډې ته یې ووېل چې دا یو څه وخت هم هلته

(c) ketabton.com: The Digital Library

په بېړۍ کی پټه شي اوکله چې د سمندر منځ ته ورسيدل نو بيا ورته خپل ځان ښکاره کړي. دوي باورلرلو چې دمونټې کرسټو د مينې ترلاسه کولو لپاره به دا انتظار کوي.
ايډمنډ ډانټې د خپلو دښمنانو نه بدل اخستې و او ټول هغه څه چې ده غوښتل ترسره شوي و خو دده په ژوند کی اوس داسی څه نه و پاته چې خوښي يې ورله ورکړی وې.
مېکس د خپلې چنغلی وېلنټاين سره دسمندر په غاړه گرځيدو او دواړود راتلونکي ژوند پلانونه جوړول. يوه وړه کشتۍ دوي ته رانږدې شوه چې تری د مونټې کرسټو پټمن ملگری جوزف راښکته شواو ده ته يې يو ليک ورکړو. په دی کی مونټې کرسټو ليکلي وچې هغه په پاريس کی خپل کوراو نور شيان مېکس اووېلينټاين ته د واده د تحفې په توگه پريښي و. ده له مېکس يو خواست کړی و چې هېډې په پاريس کی ده او دا دی په قبرص کی خپل نيکه کورته ورسوي.
مېکس تر څو چې ليک ولوستوجيکب د لوې بېړۍ لور ته تللې و او هغې لنگراوچت کړی، په ژورو اوبو کی سفرپيل کړی و. مېکس او وېلنټاين يو بل ته وکتل او وموسيدل. ليرې په افق کی هغه سپينه بېړۍ روانه وه چې مونټې کرسټواو هيډي دواړه پکی سپاره و. وېلينټاين ووېل، خدای خبر چې بيا به دوي دواړه ووينو او که نه؟ مېکس د هغې لاس ونيولو او ورته يې ووېل، مونټې کرسټو يوه خبره کوله چې د انسان ټوله پوهه په دوو تورو کی رانغتې ده، انتظار اوهيله.
پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**